## (E)برخه: د مغز لرونکو او غیر مغزي میوو تولید

## شپږم لوست: د انارو تولید (Production of Pomegranate)

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه:** زده کونکي به ددي لوست په پایله کي د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي، ددې لوست تشریحات به د لاندې موخو یا هدفونو د لاسته راوړنې سبب شي:

1. د انارو (Punica granatum)د تاریخچې په برخه کي بحث وکړئ.
2. هغه شرایط تر بحث لاندې ونیسئ چي د انارو د رشد او نمو لپاره مناسب او ړ وي.
3. د انارو د حاصل اخستلو د وخت په برخه کي خیړنه او نظر وړاندې کړئ.
4. د افغانستان د انارو عامي نوعي تشخیص او تعین کړئ.

**د لوست د تدریس لپاره وړاندیز شوي وخت:** ۳ ساعته

**وړاندیز شوي منابع یا زیرمي:** لاندې منابع یا زیرمي کیدلی شي چي په دي لوست کي ګټوري واقع شي. د درسي پلان د غوره مخکې وړلو لپاره نوموړي پلان په پاورپواینټ کي هم تهیه شوي دي.انټرنیټ د باغونو د حشراتو د کنترول په برخه کي کافي معلومات لري. په دي برخه کي لاندې ځني منابع ذکر شوي دي:

- http://www.crfg.org/pubs/ff/pomegranate.html
- http://en.wikipedia.org/wiki/Pomegranate

**د سامانونو، وسایلو، لوازمو او اساسنتیاوو فهرست یا لیک لړ**

د لیکلو لپاره سپینه یا تشه ورقه یا صفحه

د پاورپواینټ لپاره پراجکتور(غټې ښودونکی)

د پآورپوآینټ سلایدونه یا صفحي

روښانه سلایدونه

د انار نموني یا بیلګي

د تکثیر د تمرین یا مشق لپاره د انار نبات

**اصطلاح ګاني :**لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي وړاندې کیږي.( نوموړي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ پروګرام په ۲ شمیره سلاید  کي ښودل شوي دي):

**Aril** آریل یا د تخم(د میوې د دانې)ضمیمه یي پوښښ یا داخلي کیسه چې د میوې د اوبو(juice) پواسطه ډکه شوي وي او د سپین نما لرونکی مغز(pulp)  پواسطه احاطه شوي وي

**په زړه پورې تکلاره:**له یوې په زړه پورې تکلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چې زده کونکي د لوست د زده کړې لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلارې تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چې د یوې ممکنه تګلارې په ډول سره ورځخه یادونه وکړل شي: له زده کونکو څخه پوښتنه وکړي چې آیا هغوي کله هم د انار میوه خوړلی ده، هغوي باید چې ددې په څواب کې خپل لاسونه په چوپتیا سره پورته کړي. له هغوي نه پوښتنه وکړئ چې انار څنګه معلومیږي او د هغې خوند او ذایقه څنګه وي. کوښښ دې وکړل شي ترڅو چې د انار مختلفي نموني یا بیلګي کومې چې په افغانستان کې شتون لري د زده کونکو لپاره تهیه او برابرې کړی شي، په هغه صورت کې چې نموني یا بیلګي شتون ونه لري پس له تصویرونو یا انځورونو څخه استفاده وکړئ. او د همدې بحث نه په استفادې سره د لوست لومړی موخې یا هدف ته داخل شئ!

## د محتویاتو یا منځ پانګو لنډیز او درسي ستراتیژۍ ګاني

**لومړی موخه یا هدف:** د انارو (Punica granatum)د تاریخچې په برخه کې بحث وکړئ.

**(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

**I. انار چې لاتیني یا علمي نوم یې Punica granatum دی د نړی له عالې یا لوړو میوو څخه شمیرل کیږي.**

A. انارو د افغانستان له اطرافو او په شمالي هندوستان کې د همالیا له غرونو څخه سرچینه اخستی ده.

1. انار د مدیترانې(Mediterranean) په ټوله سیمه کې له پخوانیو زمانو څخه اهلي او محلي شوي دي.
2. انار په ټول سراسر هند کې او د جنوبي آسیا په وچو برخو، مالیا، ختیځ هند او د افریقا په وچو منطقو(tropical)  کې کښت او شنه کیږي.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

4. د انار د کښت او کرنې لپاره تجارتي اساسي منطقي په نړی کې منځنی ختیځ، هندوستان او د هغې چاپیره هیوادونه او هم جنوبي اروپا څخه عبارت دي.
5. د انار میوه پرته له څیړنې او مطالعې څخه خوړل کیږي.

a. د انار میوه(Pomegranate) ډیری د جوس په شکل سره په مصرف رسیږي او د هغې جوس په څو طریقو سره جوړیدلی شي.

a. د انار جوس په تازه شکل، شربت، جیلي او ساس(bug) شکلونو سره خوړل کیدلی شي.

**b.** د انار تجارتي شربت د grenadine په نامه سره پلورل کیږي.

**د زده کونکو لپاره یوه نقشه برابره کړئ  او له هغوي نه غوښتنه وکړئ ترڅو چې هغه منطقي په نښه کړي چې په هغو کي انار رشد او نمو کوي. په هغه صورت کي چې امکان شتون ولري د زده کونکو لپاره د انار نموني یا بیلګي او یا هم د انار تولیدات وښایاست.**

**دوهمه موخه یا هدف :** هغه شرایط تر بحث لاندې ونیسئ چي د انارو د رشد او نمو لپاره مناسب او وړ وي.

**(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

II. انار په نیمه وچ اقلیم کي او همدارنګه په معتدله حرارت درجه او نیمه حاره منطقو(subtropical) کي رشد او ښه نمو کوي او په طبیعي توګه په هغو منطقو کي چي د یخ ژمې او ګرم اوړی لرونکي وي خپل ځان عادت کولی شي.

A. مرطوب اقلیم یا هم نمناکه اقلیم د انار په میوه باندې په منفي توګه تاثیر لري.

1. په هغه صورت کي چي د حرارت یا تودوخې درجه له منفي یولسو څخه ښکته شي د انار میوه په جدي توګه صدمه ګوري.
2. د انار ونه په کانتینر او ځني وختونه په ګلخانو کي په میوې ورکولو باندې پیل کوي.

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

A. د انار ونه د ګلبڼ بوټې ته ورته شکل یا هم ګرد د وړي ونې شکل لري چي له ٦ نه تر ٩ مترو پوري رشد او نمو کوي، ولي په عامه توګه د انار ونې اوږدوالی له ٣،٥ نه تر ٤،٨ مترو پوري وي.

1. د انار ونه د لنډ قد لرونکو نوعو په نامه سره هم شهرت لري.
2. د انار نبات یو پاڼې غورځونکی ونه ده، ولي په ځنیو ساحو کي خپل پاڼې ساتلی شي.
3. د ونې تنه(trunk) د سور خرمایي پوستکی پواسطه پوښل شوی ده چي وروسته یي رنګ خاکستري کیږي.

a. د انار د ونې ښاخونه سخت، هډوکین او معمولاً د اغزو(spiny) پواسطه پوښښ شوي دي.

b. د انار ونه په قوي توګه میلان لري ترڅو چي لاندنیو ښاخونو sucker ته له بیخ یا قاعدې څخه رشد او نمو ورکړي.

**نوټ:** لاندني ښاخ یا sucker له هغې ښاخ نه عبارت دی چي د ونې له بیخ یا قاعدې څخه راټوکیږي او د هغي د قوت سبب کیږي.

### (د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)

**د پاور پواینټ دا شمیره سلاید د یوه رسیدلی یا بالغ(mature) انار ونه په ګوته کوي. څو ښاخونو (multiple branches)ته اشاره کوي چي تقریباً ۳۰ سانتي متره د ونې له تنې نه پورته یي رشد کړی دی. سره له دي چي دا موضوع به د ښاخ پري کولو د عنوان لاندې تر بحث لاندې ونیول شي.**

### (د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)

4. د انار ونه هم د اوږده عمر لرونکو ونو له جملې څخه ګڼل کیږي. په اروپا کي د انار داسې نموني یا بیلګي شتون لري چي له ۲۰۰ کالو څخه زیات عمر لري.
5. د انار د ونې شینوالی او ځوانې تقریباً وروسته له پنځلس کلونو څخه کمیږي او د هغې درشد او نمو قوت کمیږي.

1. انار هغه نبات دی چي خپله په خپله ګرده شیندونکی ( self-pollinated) دی ولي د حشراتو پواسطه هم غیر خودي ګرده شیندل(cross-pollinated) یي سرته رسیدلی شي.

   a. غیر خودي د ګردې شیندل(cross-pollinated) د میوي اندازې ته زیاتوالی ورکوي.
   b. د باد پواسطه د ګردې شیندل بي معني او کم اهیمته دي.

### (د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)

A. انار تقریباً ګرده یا مدوره قیافه یا شکل لري او له ٦ نه تر ۱۲ سانتي مترو پوري عریض وي او په خپله نوکه کي د کالیکس پواسطه تاج لرونکی یا کاکلي شوي دی.

- کالیکس له هغې کاسې نه عبارت دی چي کاسبرګونه په هغې باندې ځای لري

1. د انار پوستکی سخت او خرمنې ته ورته دی چي معمولاً د هغې رنګ ګلابي او تند سور وي.
2. د انار د ننی برخي د غشایي دیوالونو پواسطه چي څو ورو برخو یا قطعاتو ( compartments)باندې جلا شوي دي او دا کیسي د جوسي پلپ pulp یا اریل aril پواسطه په سور ګلابي سپین رنګه نما سره بسته بندي شوي دي .

a. د هري کيسي يا چانټي( sac)  په منځ کي يوه نرمه دانه يا سخته تيره دانه شتون لري.

## (د پاورپوائنټ ۱۰ شميره سلايد)

د پاورپوائنټ دا شميره سلايد يوه انار په ونه کي او يا هم يو نيم شوي انار په ګوته کوي. تاسې کوښښ وکړئ ترڅو حقيقي انار زده کونکو ته وښاياست او د هغوي په مخ کي انار قطع او د انار داخلي برخي په عملي توګه تر مطالعې يا څېړنې لاندې ونيسئ. هوا! ګرانو زده کونکو د انار داخلي ساختمان او د هغې داخلي ظرافت هغه درس دی چي انسان د هغې له خالق سره وصلوي.

## (د پاورپوائنټ ۱۱ شميره سلايد)

1. د دې لپاره چي د انار مزه او خوند په لوړه کيفيت سره په لاس راشي پس د ميوې ورکولو په وخت کي د هغې لپاره د حرارت لوړه درجه لازمي او ضروري ده.

a. د انار ونه ښايي  چي له ښښولو نه يو کال وروسته په ميوه ورکولو پيل وکړي ولي له دوه نيمو نه تر دري کالو پوري وخت يي د ميوي ورکولو لپاره ډير عام دی.

b. د مساعدو شرايطو لاندې د انار ميوه له غوټي کولو نه وروسته د ۵ نه تر ۷ مياشتو مودې پوري پخيږي( mature).

## (د پاورپوائنټ ۱۲ شميره سلايد)

A. د دې لپاره چي د لوړ کيفيت لرونکي انار ميوي په لاس راشي نو بايد چي د انار وني ترټولو په ګرمو او لمر لرونکو سيمو د حويليو يا باغونو کي ځای ولري، اګر چي د هغې ګل ورکول او رشد تر يوي اندازې پوري په سويري کي صورت به ونيسي.

1. انار په عادې خاوره کي او ښه نم ويستل شوي خاوره(well-drained)  کي لوړه نتيجه يا پايله لري، همدارنګه په چونه لرونکی خاوره يا لوم تيزابي خاوره او يا هم په جغل لرونکو خاورو کي ښه نتيجه يا پايله ورکوي.

2. له دي څخه وروسته چي د انار وني ښه ځای او استقرار ونيوه پس د وچکالی په مقابل کي د ملاحظې وړ تاب پيدا کوي، ولي بيا هم د ښې ميوې دلاسته راوړنې لپاره د انار ونه بايد اوبه کړل شي.

a. د دې په خاطر چي نوي کرل شوي نباتات ښه ځای په ځآی شي بايد په وچ فصل(dry season)  کي په هرو دوو نه تر څلورو اونيو پوري يو ځلی اوبه کړل شي.

b. د انار نبات د مالګينو اوبو په مقابل کي او هم د مالګينو خاورو په مقابل کي په نسبي توګه منځنی حد د تحمل کولو لري.

**(د پاورپوائنټ ۱۳ شمیره سلاید)**

1. د انار د هري یوې ونې لپاره په دوه لومړنیو پسرلیو کي د ٥٦ نه تر ۱۱۳ ګرامو پوري د نایتروجن سره یا کود ورکول کیږي، ولي ددې لپاره چي د هغې د تغذوي موادو لپاره اړتیاوي معلومي شوي وي باید چي خاوره ټیسټ(test) کړل شي یا هم د هغې لابراتواري ازموینه تر سره شي.
   a. دا چي نباتات ورستي شوي حیواني سري یا کود او د کلني ملچ ( annual mulch) کولو نورو کمپوستونو په مقابل کي عکس العمل ښکاره کوي ولي له دوه کلونو څخه وروسته په کمې اندازې سره سري یا کود ورکولو ته اړتیا لیدل کیږي.

**(د پاورپوائنټ ١٤ شمیره سلاید)**

1. د انار نبات باید هغه وخت چي ٦٠ سانتي مترو ته ورسیږي د بیا ځل لپاره پري یا قطع کړل شي.

a. له همدې نقطې څخه ځلور یا پنځه ځوانې ساقي(shoot) پریږدي ترڅو چي رشد او انکشاف وکړي، ددي لپاره چي ونه په متوازنه توګه ښه وي پس همدا ځلور یا پنځي ځواني ساقي په مساویانه توګه د ونې په تنه کي تقسیمي کړئ.
b. نلغه یا ځوانې ساقي له ځمکې څخه د ۳۰ سانتي مترو په اندازې سره پریږدئ اګر چي لنډه ده ولي د ونې تنه واضح او معلومه به وي.
c. هره جوانه او لاندنی ښاخ (sucker) چي په پورتنی برخه یا هم د ځوانو ساقو په ښکتنیو برخو کي انتخاب شوي وي ښکاره کیږي چي باید پري او لري کړل شي.

**(د پاورپوائنټ ۱٥ شمیره سلاید)**

d. له هغه ځایه چي د انار میوه د ونې په راس یا څوکه کي باداره کیږي، نو په دي بنا داسې سپارښتنه کیږي چي د دري لومړنیو کلونو لپاره ښاخونه په احتیاط سره لنډ کړل شي ترڅو چي د نویو ساقو اعظمي حد په ټولو سمتونو کي تشویق کړل شي او له نامنظم رشد او نمو څخه مخنیوي وشي او یو قوي نبات په لاس راوړل شي.
e. له دریم کال څخه وروسته یوازې لاندنی ښاخ یا بن ښاخ (هغه ښاخونه چي د ونې له بیخ نه راټوکیږي او د هغې قوت نیسي) او له منځه تللي ښاخونه له منځه یوسئ یا یي لري کړئ.

**(د پاورپواینټ ۱٦ شمیره سلاید)**

1. د انار ونه له تخم (seed)څخه پالل کیدلی شي ولي ښايي چي د والدينو عين ځانګړتیاوو ته تبارز ورنه کړي.
   a. د انار د ونې قلمي په آسانۍ سره ريښې وباسي او تقريباً له کال نه وروسته په ميوه ورکولو باندې راځي.
   b. په ژمې کي هغه قلمي چي له ۳۰ نه تر ۵۰ سانتي مترو پوري اوږدوالی ولري له کامل نبات يو کلن ښاخ څخه واخستل شي.
   c. د قلمې پاڼې لري کړئ او قلمي د ريښو ويستونکو پارونکو يا تحريکونکو موادو( rooting hormone) پواسطه معامله کړئ او تقريباً دوه پر دري برخي د قلمې په خاوره کي او يا هم په بله ريښه ويستونکی وسيله (rooting medium)کي داخل کړئ.
   d. د انار نبات هوايي ويده(air-layered) کيدلی هم شي ولي قلمه کول په کمه توګه کيامياب کيدلی شي.

**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

1. په اکثري توګه انار نسبتاً د ناروغيو او آفاتو په وړاندې بې غمه وي.

   a. د پاڼې داغ او د ميوې داغ هغه مشکلات دي چي په انار کي شتون لري پاڼې صدمه د سپنو مچانو (white flies)پواسطه، پريپسونو (هغه حشره چي د ګياوو شيره څښي) او لاک توليدونکو scale insects حشراتو يا پواسطه (د هغو حشراتو نوعي چي د هغې ښځينه جنس فلس ډوله ترشح کوي او د هغې لاندې هګۍ اچوي) منځته راځي.

له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چي انار د قلمې په شکل سره تکثير کړي. په هغه صورت کي چي د انار ونه شتون ولري هغه د زده کونکو لپاره وښاياست. او يا هم دا کيدلی شي چي يو نفر د انارو کروندګر خپل ټولګی ته دعوت کړئ او هغه د زده کونکو لپاره د انارو د تنظمي او اداري په برخه کي خبري اتري وکړي.

**دریمه موخه یا هدف:** د انارو د حاصل اخستلو د وخت په برخه کي څېړنه او نظر وړاندې کړئ.

**(د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد)**

**III. د انار ميوه هغه وخت پخه ګڼل کيږي چي برجسته رنګ ته انکشاف ورکړي او هر وخت چي ووهل شي(ورو ضربه) فلزي اواز ورکړي.**

A. د انار ميوه مخکې له دي چي ډيره زيات پوخوالی( over maturity) ته ورسيږي، مخکې له دي نه چي په انار کي درزونه رامنځته شي بايد وشوکول شي.

1. د انار ميوه هم لکه د منې په شان په انبار کولو او زيرمه کولو کي اوږد عمر لري.
2. انار د حرارت د صفر نه تر ۵ درجو د سانتي ګريد کي ډير ښه ساتل کيدلی شي او د اوه مياشتو لپاره په يخو خونو کي په همدې درجه کي چي نسبي رطوبت له ۸۰ نه تر ۸۵ فيصدو پوري وي پرته له دي چي انار وروست شي او يا هم خپلي اوبه له لاسه ورکړي، ساتل کيدلی شي
3. د انار ميوه په زيرمه ځايونو کي غوره کيږي، د هغې جوس زيات خوندور او مزه يې اضافه کيږي.

له زده کونکو څخه پوښتنه وکړئ چي د انارو د مصرفولو او پيرودلو په وخت کي د هغې کوم ظاهري خواص يا ځانګړتياوي په نظر کي نيول کيږي(زده کونکي بايد چي د دي خصوصياتو لست برابر کړي) له دي نه وروسته دي دا خصوصيات يا ځانګړتياوي په فلپ چارټ کي درج کړي او هغه دي په ټولګی کي خوړند کړي. زده کونکي بايد چي په دي برخه کي بحث وکړئ چي ولي دا ځانګړتياوي د غوښتل شويو انارو لپاره درج شوي دي؟

**څلورمه موخه يا هدف:** د افغانستان د انارو عامي نوعي تشخيص او تعين کړئ.

**(د پاورپواينټ ۱۹ شميره سلايد)**

**IV. په افغانستان د انارو زياتي محليي يا بومي نوعي شتون لري.**

A. **سورکندهاري انار( Sor Kandahari)** د کندهار په ولايت او هغې په شاوخوا سيمو کي پيدا کيږي.

1. کندهاري سور انار ګرد او رنګ د هغې سور وي ذايقه او خوند يې ترش وي.
2. يوه دانه کندهاري سور انار تقريباً ۲۳۳ ګرامه وزن لري.

**B. د کاپيسا ميخوش انار**

1. ميخوش انار خرمايي رنګ او غټ دايروي شکل لري، په دي معنی سره چي په خپلو غاړو کي راوتلي برخي او څنډي لري.

2. منځنی ذایقه او خوند لري یعني د ترش او خوږ په منځ کي متوازن حالت د ځان لپاره يي نیولی دی او دهغې منځنی وزن د هریوه انار لپاره ۱۸۹ گرامه دی.

**(د پاورپواینټ ۲۰ شمیره سلاید)**

D. **تاشقرانی انار** په بلخ او ننگرهار ولایتونو کي پیدا کیږي.

1. تاشقراني انار گرد شکل او خرمايي او سره رنگونه لري.
2. ذایقه او خوند د دي انار ترش دی او تقریباً منځنی وزن د هغې ۲٤۳ گرامه د هر یوه انار لپاره دی.

E. **پوست غساب انار ( Post ghasab)** د سمنگانو په ولایت کي پیدا کیږي.

1. د دې انار شکل او شیپ گرد او په خپل رنگ کي گلابي وي.
2. دا انار منځنی خوند لري او د هغې وزن د هر یوه انار لپاره ۲۵۷ گرامه دی.

F. **کندهاری غوز انار** د ننگرهار او کندهار په ولایتونو کي پیدا کیږي.

1. د دي انار شکل او شیپ گرد او رنگ د هغې زیړ ته مایل وي.
2. دا انار لکه څرنگه چي له نامه نه ښکاریږي، خوږ انار دی او د هغې وزن تقریباً ۲۳٤ گرامه د هر یوه انار لپاره دی.

د زده کونکو لپاره د انارو مختلفي نوعي برابري کړئ. په هغه صورت کي چي د اناروي نموني یا بیلگي شتون ونه لري پس د زده کونکو لپاره د انارو تصویرونه یا انځورونه ښکاره کړئ. له زده کونکو نه پوښتنه وکړي چي آیا د انار کومه نوعه یي تر اوسه پوري خوړلی ده؟( هغه زده کونکي چي ځواب يي مثبت دي یوازې دي خپل لاسونه پورته ونیسي). له دي وروسته زده کونکو ته د افغانستان نقشه ښکاره کړئ او له هغوي نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي هغه ولایتونه چي د انارو مختلفي نوعي تولیدوي، په نقشه کي په نښه کړي.

**بیا کتنه/خلاصه یا لنډیز:** د زده کړو موخو څخه په استفادې سره لوست خلاصه یا لنډیز کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د هري موخې پوري تړلي منځ پانگي تشریح کړي. د هغوي له ځوابونو څخه د یوه بنسټ په توگه د هغو موخو د تعین او ټاکنې لپاره کومي چي د بیاکتنې لپاره مختلفو تگلارو ته اړتیا لري، تر استفادې لاندې ونیسئ. له هغو سوالونو څخه چي د پاورپواینټ په ۲۱ شمیره سلاید کي شتون لري هم په دي برخه کي استفاده کولی شی.

**تطبیق او عملي کول:** زده کونکي په څو گروپونو باندې تقسیم کړئ او هر یو گروپ د انارو په یوه نوعه باندې توظیف کړئ. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د خپلو مربوطه نوعو په برخه کي تحقیق یا څیړنه وکړي او د معلوماتو رساله یا مقاله د خپلي هري نوعې لپاره تهیه کړي. وړه رساله باید چي په تصویرونو، د رشد او نمو په معلوماتو، فزیکي خصوصیاتو او مهمو نورو معلوماتو باندې مشتمله وي. له دي نه وروسته ټول معلومات د یوي واحدې رسالې په مخ ولیکي او د هغې کاپي تهیه او زده کونکو ته يي توزیع کړئ.

**ارزيابی:** ارزيابی بايد د زده کونکو په لاسته راوړنو باندي متمرکزه وي کومه چي له درسي موخو څخه وي. په دي برخه کي مختلف تخينکونه د استعمال وړ دي، د بيلګي په توګه په غوښتنيزو فعاليتونو باندي د زده کونکو اجرا کوني. په ليکلي بڼه امتحان يا ازموينه ددي درسي مواد شامله دي.

**نمونه يي امتحان ته ځوابونه:**

**لنډ ځواب**

1) د انار نبات له کوم ځای څخه سرچينه اخستی ده؟

انارو د افغانستانو له اطرافو او هم د هماليا د غرونو نه په شمالي هندوستان کي سرچينه اخستی ده.

2) د انار لپاره غوره خاوري او نم ويستل شوي خاوري د هغيو د رشد او نمو لپاره کومي دي؟

انار په عادي خارو او ښه نم ويستل شوو خاورو (well-drained)کي لوړه نتيجه ورکوي، همدارنګه په چونه لرونکو خاورو او لوم تيزابي او يا هم په جغل لرونکو خاورو کي ښه او په زړه پوري نتيجه ورکوي.

3) د انار د تکثير لپاره ترټولو غوره ميتود يا کړنلاره تشريح او روښانه کړي.

4) آريل (aril) څه دی؟

د تخم(د ميوې دانه) ضميمه يي پوښښ دی . يا هم داخلي کڅوړه ده چي د ميوې د اوبو ( juice) پواسطه ډکه شوي وي او د سپين نما لرونکی مغز (pulp)پواسطه احاطه شوي وي.

5) د دې لپاره چي د انار ښه ذايقه او خوند په لاس راوړل شي پس د ميوي ورکولو په جريان کي د حرارت کومه درجه لازمه ده؟

د دې لپاره چي لوړ کيفيت لرونکی د انار ميوه په لاس راشي پس د انار ونه بايد چي په ګرم ځای او د لمر نه په غني برخه د حويلی يا باغ کي ځای ولري اګر چي د ګل ورکولو وخت او د هغې درشد وخت تر يوې اندازې پوري په سويری کي صورت نيسي.

6) د انار کامله يا رسيدلی ونه تشريح او روښانه کړئ.

د انار ميوه هغه وخت پخه بلل کيري چي برجسته رنګ ته انکشاف ورکړي او هرکله چي ووهل شي(ورو ضربه) نو فلزي اواز ورکړي.

7) د مطلوبو شرايطو لاندې انار د څومره وخت لپاره زيرمه کيدلی شي؟

د مساعدو او مطلوبو شرايطو لاندې د انار ميوه له غوټۍ کولو نه وروسته د ٥ نه تر ٧ مياشتو په موده کي پخيري(mature).

**نمونه يي امتحان** **نوم:--------------------**

## امتحان(ازموينه)

## شپږم لوست : د انارو توليد (Production of Pomegranate)

### لومړۍ برخه: لنډ ځواب

**رهنمايی (لارښوونه):** ددي لپاره چي لاندې سوالونه مو ځواب کړي وي، لطفاً تاسې د هغې سره تړلي معلومات برابر کړئ.

8) د انار نبات له کوم ځای څخه سرچينه اخستی ده؟

9) د انار د نمو او رشد لپاره غوره خاوري او نم ويستل شوي خاوري کومي دي؟

10) د انار د تکثير لپاره غوره ميتود يا کړنلاره تشريح او روښانه کړئ.

11) آريل (aril) څه دی؟

12) د دې لپاره چي د انار ښه ذايقه او خوند په لاس راوړل شي پس د ميوي ورکولو په جريان کي د حرارت کومه درجه لازمه ده؟

13) د انار کامله يا رسيدلی ونه تشريح او روښانه کړئ.

14) د مطلوبو شرايطو لاندې انار د څومره وخت لپاره زيرمه کيدلی شي؟